سپېڅلي کردارونه

# مشالونه

جمال داوړ

د بل چا لارې تيارې دي ورک مو نۀ کړي
زۀ مشال يم په رڼا مو ځئ منزل ته

ملک حاجي انورشاه په کال ۱۹٤٤ کښې د دسمبر د مياشتې په دېرشم تاريخ د شمالي وزيرستان په خدي کلي کښې د ميرسدي جان ملک په نامور کور کښې سترگې وغړولې. دے دا اعزاز لري چې د دۀ اکابرين د باچاخان سره په مرسته کښې پاتې شوي دي کله چې باچاخان د وزيرستان په دوره ؤ نو د انورشاه ترۀ ملک سدي جان او ملک مير جاني د محسن داوړ نيکۀ ورسره ميرانشاه، رزمک او وانا ته تللي وو. نهرو او ډاکټر خان هم ورسره وو.

انور شاه داوړ د خپل پلار په اتو(۸) بچو کښې شپږم اولاد ؤ او په دريو مورنيو ورونو کښې کشر ؤ او د څلورو بچو بلور شاه، بختاور شاه، وطن يار او پښتون يار پلار ؤ. تر ايف اے پورې تعليم ئې حاصل کړے ؤ. لسم ئې د گورنمنټ هائي سکول عيدک نه پاس کړے ؤ، د تعليم په سلسله کښې د سکول په دوران کښې کرک ته هم تللے ؤ او ايف اے ئې د ډگري کالج ميران شاه نه کړې وه.

داسې ملک بختارالدين په باچاخان کوټ نامي کلي کښې په کال ۱۹۷۱ کښې د جنورۍ په شپږم تاريخ د بخمل جان په معززه کورنۍ سپرلے راوستو، دے په خپلو نهو ورونو کښې د ټولو کشر ؤ او يو ماشوم بچے حسين الله لري، لسم جومات ئې د هائي سکول عيدک نه پاس کړے ؤ، د کامرس کالج ميران شاه نه ئې ډي کام کړے ؤ او ډگري کالج ميران شاه نه ئې بي اے کړې وه.

په انور شاه او بختارالدين کښې خدائے پاک ډېر لوړ عادتونه او خصلتونه ايښي وو. د دواړو خندا هم ډېره زړۀ وړونکې وه او غصه ئې هم ډېره د جلال نه ډکه وه. په چم کښې د خوار، غريب په استحصال به د دوي خفگان او غصه د کتلو وه. دوي به د ماشومانو سره ماشومان، د ځلمو سره ځلمي او د مشرانو په محفل کښې او په جرگو کښې به داسې وو لکه د ستورو په محفل کښې چې سپوږمۍ کښېني. خيال مې نۀ شي چې په سيمه کښې څوک داسې وي چې د دوي په خوش اخلاقۍ او شخصيت مئين نۀ وي کۀ عالمان وو کۀ ملايان وو کۀ تعليم يافته وو او کۀ بې تعليمه، غرض دا چې کله به د جومات مخکښې په کټ ناست وو نو د گاونډ ځلمي او هلکان به داسې پرې راجمع وو لکه په گبين چې مچۍ راپنډې شي.

داسې بختارالدين به چې کله په دکان ناست ؤ نو د سړي به مجال نۀ ؤ چې نېغ تېر شي هر څوک به ئې خوږو خبرو ته کښېناستل او دۀ ته به ئې خپل ضرورتونه او خدمتونه ښودل.

دۀ به چائے پرې څښلې او ورته به ئې وئيل چې "زۀ معافي غواړم تاسو د زيات احترام قابل

يئ خو ما درباندې عام چائے وڅښلې" او په خندا به ئې رخصت کړل.

حاجي انورشاه د عوامي نېشنل پارټۍ صدر او په نورو اهمو عهدو پاتې شوے دے او ملک بختار الدين هم په موجوده دور کښې د مير علي تحصيل صدر او د صوبائي مجلس عاملې رکن ؤ. دوي د عوامي نېشنل پارټۍ سره خپل ژوند او مرګ تړلے ؤ، د باچاخان، عبدالولي خان او د اسفنديار ولي خان سره ئې ډېر عقيدت لرلو، د دوي په رهبرۍ ئې بې پناه فخر کولو. په خپل سياسي ژوند کښې ئې ډېرې هلې ځلې تېرې کړې دي. هر ځائے ئې جرګې، مرکې کړې دي. په وزيرستان کښې ئې عوامي نېشنل پارټۍ ته د فضل حميد داوړ، نثار علي خان او نجي الله داوړ په وروري کښې ډېر دوام ورکړے دے.

په هر مېدان انورشاه د قام د مظلوميت ژړا کړې ده او د پښتنو په محرومۍ او بې اتفاقۍ ئې زړۀ خوږلے دے. په ډېرو جرګو او جلسو کښې ما وليدو چې کومه خبره به ئې وکړه نو ګويا مېله به ئې لوټ کړه د "نهه زرو" داوړو په لښکر کښې به ئې داسې جادوئي خبرې وکړې چې هر چا به يو بل ته د حېرانتيا په نظر وکتل.

هم دغسې ملک بختارالدين په هر مېدان کښې د پښتنو د مينې او اتفاق خبرې کولې او په خپل ګران وطن ئې د ځان د قربانۍ خبرې کولې. دۀ به اکثر بلکې په هره جلسه کښې دا خبره کوله چې اوس ئې همايون اکبر حسېن د قبر پر کاڼي (کتبه) هم ليکلې دي چې:

پاتې به نۀ راځو سودا کۀ د سرونو شوله
د وطن شمعې وايه څومره پتنګان غواړې تۀ

حقيقت دا دے چې د دۀ د دې شعر سره پوره پوره انصاف وکړو او په مونږ ئې خپل نرتوب د منصور په رواج ومنلو.

دواړه مشران د پارټۍ د مشرۍ نه علاوه د خپلو خاندانونو او د کلو مشران هم وو. د عمر په لحاظ به انورشاه نه په خپله قبيله کښې ډېر قدرمن مشران شته خو د خپلې پوهې او د حوصلې په برکت د خپل خاندان ټوله ذمه داري د دۀ په ذمه وه او ټول خاندان ددۀ د سپورې لاندې بې غمه وخت تېروۀ. د بهر د خبرو اترو دپاره هم ډال ؤ او د خاندان ځلمې ئې هم د هرې جذبې نه په موټې کښې را ايسار کړې وو او پارټۍ ته ئې هم پوره پوره وخت ورکړے ؤ. دا ګران کار ډېر کم خلق کولے شي.

هم دغسې بختارالدين د خپل کوټ او کلي د سر سړے ؤ. د خاندان سرمايه وه، د مظلومانو سهارا ؤ، نن چه هغه نشته نو هر سړے وائي چې کلے پرې وران شو، دنيا ړنګه شوه. دا حقيقت دے چې د دوي په تلو زمونږ د خپلې برخې دنيا ورانه شوې ده او تش خيالونه او سوچونه پاتې دي. کله را په زړۀ شي چې انورشاه به ماته وئيل" جمال ګوټې! مطالعه چې څومره زياته کولے شې کوه خو يوه ګېنټه ئې زما دپاره اضافي کوه".

يو ځلې مونږ دکالج سټوډنټس ددۀ سره ملاقات کولو دۀ مونږ ته وئيل چې" وخت راروان دے چې خلق به د مجبورۍ نه سرې جنډې ته راځي او زمونږ په خوا کښې به امن غواړي."

داسې چې د بختارالدين سره به کښېناستو نو نصيحتونه به ئې کول چې په کالۀ کښې

ورورولي پېدا کوئ او چې څۀ ګرانه پېښه وي ماته به وايئ. يو ځلې مونږ د پښتون اېس اېف دپاره چنده کوله چې دۀ ته راغلو نو دۀ ووئيل چې " تاسو په چندو پسې ډېر اخوا دې خوا مۀ ګرځئ چې څومره ضرورت مو وي نېغ ماله راځئ خدائے دومره څۀ راکړي دي چې ستاسو د هر څۀ ذمه وار يم".

غرض دا چې د هغوي يوه يوه خبره مې د سمندر د څګ غوندې واخلي او ښۀ لرې مې يوسي، بيا هم زړۀ ته په خپله تسلي ورکړم چې بې شکه هر انسان ته ژوند د يو کردار د ادا کولو دپاره ورکړے کېږي خو زۀ په دې ډېر خوشحاله يم چې دوي خپل کردار انتهائي ښکلے ادا کړے دے کۀ نور هر څۀ سړے نۀ شي ليکلے خو د دوي جنازې ددې خبرې ثبوتونه وو. ما داسې جنازې په ژوند کښې نۀ دي ليدلې، زما خو به خپل وي، خو پردو خلقو هم د ماشومانو غوندې سلګۍ پسې کولې او د هر چا په سترګو کښې دا سوال ؤ چې:

مسافرۍ ته دې ځان جوړ کړو
د زېړو ګلو باغ په چا سپارې مئينه

د زېړو ګلو باغ پاتې شو خو دوي عوامي نېشنل پارټۍ ته دا اعزاز ورکړو چې په يوولسمه فرورۍ ۲۰۰۸ ئې د وزيرستان دپاره د سرونو قرباني ورکړه چې د تر اوسه د بل ګوند دکارکنانو دلاسه نۀ ده شوې. خدائے دې د دوي شهادت قبول وفرمائي. آمين ثم آمين

مړۀ هغه چې نۀ ئې نوم نۀ ئې نشان وي
تل ترتله په ښۀ نوم پائي ښاغلي

# تعزيت

د پښتنو د ډېر زوړ کلي شېرې کېره اوسپدونکي دوه زاړۀ خدائي خدمتګاران ورونه حاجي عباس خان اپريدے او حاجي عالم خان اپريدے په يو بل پسې په دوه ورځو کښې په حق ورسېدل. انا لله وانا اليه راجعون.

محترم حاجي چمن جان چې دمردان هوتي اوسېدونکے دے،د کوېټ نه خبر راکړو چې حاجي عباس خان اپريدے څوک چې يو ډېر زوړ خدائي خدمتګار ؤ او چا چې په وخت د باچاخان ډېر خدمت کړے دے او چا چې د باچاخان د ټولې کورنۍ د خلکو سره پېژندګلو لرله او چا چې ډېره موده په کوېټ کښې د پښتنو په خدمت کښې تېره کړې ده چې بيمار شو نو د پېښور په يو هسپتال کښې داخل کړے شو په تېرو ورځو کښې ئې ورور حاجي عالم خان اپريدے تپوس له راغے دوۀ ځلور ورځې پس حاجي عباس خان په حق ورسېدو او په سبا له پسې حاجي عالم خان هم په حق ورسېدو. مرګ حق دے خو د دغو دواړو ورونړو د خدمت ځائے ډکول به اسانه خبره نۀ وي. په هر حال زمونږ دعا ده چې خدائے پاک د هغوي د خدمت او قربانو په برکت هغوي له په جنت الفردوس کښې ځائے ورکړي، د هغوي پسماندګانو له دې خدائے د صبر توفيق ورکړي او په کوېټ کښې دې خدائے د هغوي د خدمت د کرکوندې دغه پټے د پښتنو د روښانه مستقل په خاطر چرې نۀ بې ثمره کوي.

اداره په مکمل ډول د دغو دواړو مشرانو د کورنيو سره په دې غم کښې برابر شريکه ده د هغوي د خدماتو صله زمونږ سره نشته، دغه صله دې خدائے پاک د دې بې وسه قام له خاطره هغوي ته ورکړي.امين ثم امين.

اداره